مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۶/۱۰

# ډالۍ

کلیزه دې ده
باید څه در ډالۍ شي؟
یوه ګېډۍ ګلان
که یوه موسکا خوره
یوه غېږه عطر
که یو یادګار لیک
یو د مینې کتاب
یا یوه نازولې تابلو
یو.زرغون شال
یا یو د چکر تیکټ

کلیزه دې ده
باید څه در ډالۍ شي؟
یوه عالي سندره
که یو شاهکار شعر
یوه دعا د لمانځه
که لیپې اوښکې د شپې
یو ځنځیري چارګل
که د سرو زرو هار
یوه وروستۍ ساه
او که واړه ژوند زما

کلیزه دې ده
باید څه در ډالۍ شي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ